2 017550 139621

# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر دویمه | ۴۷۲یمه ګڼه

# په ننګرهار کې د مور بم له غورځولو وروسته؛

## په سیمه کې ناروغۍ ډېرې شوې او پراخې ځمکې شاړې شوې دي



۳

### هېواد

۴ مخ

## قطر

قطر د سړي سرکلني عايد له پلوه د اسيا او نړۍ له شتمنو او بډايه هېوادونو څخه شمېرل کيږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر ليک او لوست پوهېږي.



## چارواکي: سږ کال د ننګرهار د زیتونو حاصلات پنځه برابره ډېر شوي دي



د ننګرهار د کانال رياست ويلي چې سږ کال د دغه ولايت د زيتونو له فارمونو ۱۵۰ ټنه حاصلات راټول شوي، چې د تېر کال په پرتله پنځه برابره زيات شوي دي.

د چارواکو په خبره، پخوا ډېر فارمونه د وسله والو په لاس کې وو، خو په يادو سيمو کې د امنيتي ځواکونو تر عملياتو وروسته، فارمونه د دولت په کنټرول کې راغلي او حاصلات ورسره لوړ شوي دي.

دوی ويلي، سږ کال يې له زيتونو څلور ټنه اچار پروسس کړي او د تېلو د پروسس لړۍ چې لا هم روانه ده، ټاکل شوې لسو ټنو ته ورسيږي.

د ننګرهار د کانال رياست اړوند د زيتونو د فابريکې آمر عتيق الله نايل ويلي، سږ کال دوی ته د کانال د زيتونو له فارمونو څخه ۱۵۰ ټنه د زيتونو دانې راوړل شوې دي، چې د تېر کال په پرتله پنځه برابره زياتې دي.

### د سولې بين الافغاني غونډې، خنډونه او اړتياوې

۲ مخ

### افغانستان ته د ټرمپ لومړنی سفر او د سولې پر پروسه يې اغېزې

۲ مخ

### مسووليت منونکي اوسئ!

۳ مخ

## سرچينې: د جرمني بين الافغاني ناسته به تر راتلونکو دوو اونيو جوړه شي

د بيجېنګ بين الافغاني ناستې تر ناکامېدو او په جرمني کې د ورته يوې بلې ناستې د جوړېدو په تړاو تر راپورونو وروسته، پخواني طالب چارواکي هم تاييدوي چې په جرمني کې د بين الافغاني ناستې د جوړېدو لپاره هڅې روانې دي.


پخواني طالب چارواکي وايي چې د بيجېنګ بين الافغاني ناستې له نه تر سره کېدو وروسته، په پام کې ده چې په راتلونکو دوو اونيو کې د جرمني په برلېن ښار کې ورته يوه ناسته تر سره شي، چې له افغان سياستوالو او طالبانو سربېره به د حکومت کسان هم پکې برخه واخلي.

پخوانی طالب چارواکی مولوي قلم الدين وايي: «د چين ناسته تقريباً پر لغوه کېدو ده، نو په همدې اساس کېدای شي د جرمني په برلېن کې ورته ناسته وشي او په دې ناسته کې به سياسيون او افغان حکومت په ګډه برخه اخلي او کېدای شي دا غونډه په راتلونکو دوو هفتو کې وشي». دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي مارک پوتزل ويلي، هېواد يې هوډ لري چې د افغان سولې په تړاو په برلېن ښار کې بين الافغاني ناسته جوړه او په دې اړه به له افغان حکومت سره د خبرو په هدف کابل ته راشي.

په ورته وخت کې ځينې نور پخواني طالب چارواکي او د سولې له پروسې با خبره سرچينې هم تاييدوي، چې د جرمني او اروپايي هېوادونو استازو له طالبانو سره په ناستو کې د ورته ناستې د جوړېدو غوښتنه کړې ده.

په جرمني کې د بين الافغاني ناستې په تړاو څرګندونې داسې مهال دي، چې ټاکل شوې وه په بيجېنګ کې دغه ناسته وشي، خو د نامعلومو دلايلو له امله ونه شوه.

## د سولې خبرې بايد په تېرو څلورو لسيزو کې په جګړو کې د ښکېلو ډلو تر منځ وشي



۳ مخ

## گورباچف: حضور آمریکا در افغانستان، جهان را تهدید می‌کند



میخائیل گورباچف آخرین رهبر اتحاد جماهیر شوروی، با تشریح خطراتی که ادامه حضور نظامیان آمریکایی در افغانستان متوجه جهان می‌کند، گفته است که نیروهای آمریکایی باید از این کشور عقب‌نشینی کنند.

گورباچف که از سال ۱۹۸۵ تا ۱۹۹۱ میلادی رهبر اتحاد جماهیر شوروی بود، در گفت‌وگو با سی‌ان‌ان به بازگویی خاطراتش از نقش اتحاد جماهیر شوروی در جنگ افغانستان در سال‌های ۱۹۸۰ میلادی پرداخته و گفته است: «درسی که آمریکا باید از خروج شوروی (سابق) از افغانستان بیاموزد، این است که آنها باید افغانستان را ترک کنند».

او در واکنش به قصد «دونالد ترامپ» برای خارج کردن نیروهای آمریکایی از افغانستان، تاکید کرده است که این نیروها باید خارج شوند؛ این درس بزرگی بوده و چیزی شبیه به مسابقه است. مسابقه که شروع شود، آتش گسترش می‌یابد و این درگیری‌ها زمانی که بزرگترین کشورها در آن بیشتر دخل و تصرف داشته باشند، برای همه کشورها، خطرناک است.

گورباچف در ادامه در مورد پیمان «منع سلاهای هسته‌ای میان برد»، خروج آمریکا از این پیمان را مورد انتقاد قرار داد و گفته است: «همه توافق‌های موجود، محفوظ می‌ماند و از بین نمی‌رود، اما این نخستین گام به سوی نابودی آن چیزی است که در هر صورت نباید از میان برداشته شود. اگر این مسیر ادامه یابد، هر چیزی ممکن است و نباید اجازه وقوع آن را داد».

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal English Academy

شیگل انګلیش اکاډمي

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د سولې بین الافغاني غونډې، خنډونه او اړتیاوې

په جرمني کې د افغان سولې په تړاو د یوې بین الافغاني غونډې لپاره کارونه پیل شوي دي. ویل کېږي چې دا غونډه د جرمني په ملاتړ او د طالبانو په خوښه جوړېږي. معلومه نه ده چې د دې غونډې په اړه به د افغان حکومت دریځ څه وي. تر دې وړاندې په چین کې بین الافغاني غونډه درې ځلې وځنډېدله او اوس داسې ښکاري چې یو مخ لغوه شوې ده. د دې غونډې د ځنډ او په لاره کې یې د خنډ لامل د غونډې د ګډونوالو پر سر د حکومت، طالبانو او افغان سیاستوالو اختلاف و.

اوس چې په جرمني کې د بین الافغاني غونډې لپاره هڅې روانې دي، یو ځل بیا وېره ده چې ښایي د غونډې پر څرنګوالي او ګډونوالو اختلاف د دې غونډې د ځنډ او لغوه کېدو سبب شي. د چین په بین الافغاني غونډه کې حکومت هڅه کوله چې هم خپل استازي وټاکي او هم په سیاستوالو کې خپله انتخاب وکړي. هغه سیاستوال چې حکومت نه غوښتل غونډې ته ورشي، له لېسته و ایستل شول او پر ځای یې نور کسان شامل شول. له هغه لېست سره هم سیاستوالو مخالفت وکړ، ځکه چې هر څه یې د حکومت په خوښه نه غوښتل او هم طالبانو مخالفت وکړ، ځکه چې حکومت هڅه کوله له کابله ټول تلونکی پلاوی د حکومت دریځ بیانوونکی وي او یا هم د حکومت تر اغېز لاندې وي. اوس چې په جرمني کې دا غونډه جوړېږي، حکومت به بیا دا هڅه وکړي.

لومړی خو بین الافغاني تفاهم او مذاکره د سولې لپاره بنسټیز کار دی. له بین الافغاني تفاهم، مذاکرې او توافق پرته سوله شونې نه ده. پر همدې اساس له بین الافغاني خبرو سره هېڅ ډول مخالفت پکار نه دی او آن ښکېل اړخونه باید په دې برخه کې قرباني ورکړي او له خپلو ځینو دریځونو او غوښتنو تېر شي. پخوانۍ بین الافغاني غونډې چې په مسکو او قطر کې وشوې، خورا ګټورې وې، که څه هم په هغو غونډو کې څه ستونزې وې او د تخریب هڅې یې هم وشوې، خو بیا یې هم د ښکېلو اړخونو دریځونه نرم کړل، موقفونه واضح شول او آن کرکه او نفرت کم شو. څومره چې د افغانانو تر منځ خبرې اترې کېږي، دریځونه روښانه کېږي، بحث کېږي، د یو بل د قانع کولو هڅې کېږي، په همغه کچه کرکه او نفرت کمېږي او سولې ته لاره لنډېږي. دا سمه ده چې په دې غونډې کې ستونزې شته، د غونډې ځای، څرنګوالی او ګډونوال به داسې نه وي چې ټول پرې موافق وي، خو بیا هم یو ګام دی او مهم ګام دی. د دغو غونډو د اصلاح هڅه باید وشي، نیمګړتیاوې یې باید کمې او یا هم ختمې شي، خو هېڅکله باید داسې هڅې ونه شي چې د غونډو د ځنډ او لغوه کېدو سبب شي. اوس چې د طالبانو او امریکا تر منځ خبرې روانې دي او ښایي ژر پایله هم ولري، نو بین الافغاني خبرو، تفاهم، مذاکراتو او توافق ته لا زیاته اړتیا لیدل کېږي. دا کارونه باید چټک شي او د طالبانو او امریکا له توافق وروسته باید بین الافغاني توافق او سولې ته هم لاره هواره شي.

# افغانستان ته د ټرمپ لومړنی سفر او د سولې پر پروسه یې اغېزې

لیکنه: احمدشاه راشد- د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د لیندۍ/ قوس میاشتې په ۷مه نېټه ماسختون ناوخته په یوه ناڅاپي او نااعلان شوي سفر افغانستان ته راغی او افغان ولسمشر محمد اشرف غني ته یې هم د ده د لیدلو په پار د بګرام هوایي اډې ته بلنه ورکړل شوه او له بلنې سره سم افغان ولسمشر هم د بګرام هوایي اډې ته د لیدنې په پار تشریف وړو.

ډونالډ ټرمپ په داسې حال کې چې د امریکا لوی درستیز جنرال مارک مېلي، افغان ولسمشر محمد اشرف غني، په افغانستان کې د ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال مېلر او نور امریکایي چارواکي یې تر څنګ ولاړ وو، سرتېرو ته په وینا کې وویل، له افغانستان څخه یې د وتلو پلان د تطبیق په حال کې دی، خو په ډاګه یې نه کړه چې څومره سرتېري به له دغه هېواد څخه باسي.

همدا راز ټرمپ د خبرو پر مهال وویل، طالبان غواړي له افغان حکومت او امریکا سره خبرې وکړي او دوی دېته هم قانع شوي چې اوربند وکړي، خو ده زیاته کړه چې طالبان ډېره بده معامله او هوکړه غواړي، خو دېته یې اشاره ونه کړه چې څه ډول بده هوکړه او معامله کول غواړي. هغه یوازې زیاته کړه چې موږ به تر هغه وخته پورې په افغانستان کې پاتې شو، څو پورې مو چې بریا تر لاسه کړې نه وي او د سولې واقعي هوکړې ته نه وو رسېدلي. ښاغلي ټرمپ همدا راز له ترهګرۍ سره په مبارزه کې د افغان ځواکونو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې د دوی کارنامو خورا متاثره کړی دی.

نوموړی په داسې حال کې افغانستان ته خپل لومړنی ناڅاپي سفر کوي، چې د سولې خبرې اترې له یو څه ځنډ وروسته بېرته د نورمال حالت پر خوا روانې دي. د ټرمپ تر سفر یوه شپه وړاندې د امریکا لوی درستیز جنرال مارک مېلي هم کابل ته رارسېدلی و. هغه هم په خپلو خبرو کې ویلي وو، چې په نږدې راتلونکې کې به د سولې پروسه کامیابه شي او له طالبانو سره خبرې پیل کېدونکې دي. د امریکا ولسمشر په داسې حال کې افغانستان ته ناڅاپي سفر کوي، چې په تېره سپټمبر میاشت کې یې له افغان طالبانو سره د سولې روانې خبرې په ناڅاپي توګه ودرولې. خو څه موده وړاندې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د څو مهمو بندیانو له تبادلې وروسته، اوس داسې ښکاري چې د سولې خبرې ښایي یو ځل بیا پیل شي. په دې تبادله کې افغان حکومت د انس حقاني په ګډون، درې طالبان له خپله بنده خوشي کړل. په بدل کې یې طالبانو په کابل کې د امریکایي پوهنتون دوه بهرني استادان خوشي کړل. په پایله کې شته بې باوري کمه او د سولې خبرو بیا پیل کېدل یې یقیني کړل.

**د ټرمپ سفر ته کتنه**

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د جمعې په ماښام د افغانستان په وخت د شپې اته نیمې بجې ناڅاپي او په نااعلان شوي سفر افغانستان ته راغی او له څو ساعتونو ځنډ وروسته بېرته خپل هېواد ته ستون شو. د نوموړي د سفر په اړه بېلا بېل تحلیلونه موجود دي، د نوموړي سفر یو غیر رسمي سفر و، چې په ډېره بېړه او په کم وخت کې بشپړ شو. تر ډېره امکان لري ښاغلی ټرمپ له دغه سفر څخه یوازې او یوازې کمپاینې ګټه پورته کړي او د شکرانې مراسمو د لمانځلو په موخه دا د امریکا د جمهور رییسانو دود دی. دوی د کرېسمېس او شکرانې مراسمو په ورځو کې بهرنیو هغو هېوادونو ته سفر کوي چېرته، چې نظامي حضور لري. تېر کال په کرېسمېس جشن کې عراق ته لاړ او سږ کال د شکرانې په مراسمو کې افغانستان ته راغی او دا مراسم یې له خپلو مېشتو فوځیانو سره د بګرام په هوایي اډه کې، چې په افغانستان کې د دوی تر ټولو لویه اډه ده، ولمانځل، څو په دې سره په دې اړه باندې د خپل ملت توجه ځان ته را جلب کړي. بل دا چې ټرمپ په تېرو ټاکنو کې له خپل ملت سره وعده کړې وه، چې د افغانستان جګړه به ختموم، دا جګړه د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه ده، ده په خپلو خبرو کې وویل، چې طالبان په افغانستان کې سوله غواړي او موږ هم نور نه غواړو چې په افغانستان کې تر دې زیات پاتې شو. له طالبانو سره توافق ته له رسېدو وروسته، موږ خپل سرتېري له افغانستان څخه وباسو، خو دا یې په ډاګه نه کړه چې څومره سرتېري به په افغانستان کې له توافق وروسته هم پاتې شي. نیویارک ټایمز لیکي چې د امریکا جمهور رییس ډونالډ ټرمپ د خپل لومړني سفر پر مهال پر جمهور رییس محمد اشرف غني باندې فشار راوړی، چې خپل داخلي مشکلات حل کړي او له طالبانو سره سولې ته د رسېدو په برخه کې هم خپله همکاري زیاته کړي. همدارنګه دوی زیاتوي، د افغانستان په ټپه ولاړه او اداري فساد ځپلې اداره کېدای شي د طالبانو د تشدد پر خلاف، د امریکا د بریالیتوب تر ټولو لوی خنډ وي. بهرني خبریالان چې په دې غونډه کې یې ګډون کړی و، وایي چې د ډونالډ ټرمپ له محمد اشرف غني سره د خبرو په وخت، لهجه تېزه وه، هغه د غني هېڅ تعریف ونه کړ. شاید په دې سره ټرمپ غوښتل غني پر دې پوه کړي، چې د هغه په دویمه دوره کې داسې ډېر شیان دي چې له لومړۍ ورځې څخه ورته توجه نه ده شوې.

**د دې سفر اغېزې د سولې پر پروسه باندې**

د ولسمشر ټرمپ دا سفر په داسې وخت کې تر سره کېږي، چې ورسره هممهاله د سولې د خبرو د بیا پیل هڅې کېږي او دې هڅو نتیجه هم ورکړې ده. افغانستان ته د ټرمپ اول سفر دی او جنګي سیمې ته یې دا دویم سفر دی، دا سفر داسې مهال کېږي، چې کابو درې میاشتې وړاندې د طالبانو او امریکا تر منځ ۹ پړاوه خبرې تر سره شوې او دواړو لوریو د پرمختګ او توافقنامې د نهایي کېدو خبره کوله؛ خو په دې پلمه چې طالبانو په یوه برید کې یو امریکایي سرتېری وژلی؛ ټرمپ یې په پایله کې له طالبانو سره شوې خبرې نورې بندې کړې، خو هغه وخت هم کیسه د سرتېري د وژل کېدو نه وه. موخه دا وه چې طالب پلاوی او د افغان حکومت په مشرۍ به محمد اشرف غني امریکا ته سفر کوي او دا کومه توافقنامه چې د امریکایي لوري او طالبانو تر منځ نهایي شوې ده، طالبان به یې په کېمپ ډېوېډ کې د افغان حکومت د جمهور رییس او ټرمپ په حضور کې له امریکا سره لاسلیک کوي؛ خو دا چاره د طالبانو له لوري رد شوه. هغه وخت افغان حکومت له امریکا سره دا پرېکړه منلې وه، نو له همدې امله هغه مهال خبرې بندې شوې او په نړیواله سطحه داسې معلومه شوه، چې د خبرو د بندېدو سبب خپله امریکایان وو؛ نو په همدې اساس دوی مجبور شول، چې بېرته له طالبانو سره خبرې پیل کړي. د باور جوړونې په موخه د طالبانو پلاوي پاکستان ته سفر کړی و، دوی هم خپل استازی زلمی خلیلزاد اسلام اباد ته ورولېږلو، نوموړي هلته له طالبانو سره درې ورځې پرله پسې ناستې درلودې، چې د دې ناستو جزیات په ډاګه نه شول. خو د همدې ناستو په لړ کې د بندیانو تبادله تر سره شوه او د دواړو لوریو تر منځ د اعتماد فضا د جوړېدو پر طرف لاړه. اوس د بل هر وخت په پرتله د سولې خبرو بیا پیل ته زمینه برابره شوې. خپله د ټرمپ راتګ د خبرو د پیل لپاره یو ښه فرصت دی او هغه په خپلو خبرو کې هم یادونه وکړه، چې: «موږ له طالبانو سره بیا خبرې پیل کړې دي او موږ کوښښ کړو چې له دوی سر نتیجې ته ورسېږو». د ټرمپ له دې سفر څخه معلومه شوه، که چېرې امریکایان له طالبانو سره توافق ته رسېږي، داسې برېښي چې دا توافق به نه افغان ملت ته د منلو وي او نه د جګړې دواړو لوریو (افغان حکومت او طالبان) ته. نو پکار ده چې افغان حکومت او طالبان له شته نایاب فرصت څخه پوره ګټه پورته کړي او په پایله کې یې تل پاتې سوله افغانستان ته راشي.

**ټرمپ په افغانستان کې سوله غواړي؟**

د ټرمپ هڅه دا ده چې د ۲۰۲۰ ز کال له ولسمشریزو ټاکنو مخکې له طالبانو سره یوې هوکړې ته ورسېږي، څو له خپل ملت سره شوې وعده پوره او د ده بیا ځلې راتګ سپینې ماڼۍ ته یقیني کړي او بل په اوس وخت کې د امریکا او چین اقتصادي ټکر، د شمالي کوریا او ایران اټومي کېدل، په سوریه کې له ترکانو او روسانو سره ستونزې، په اروپا کې د ناټو د شتون او نشتون خبره خوله په خوله کېدل، منځنۍ ختیځ کې کړکېچن وضعیت، د ترکیې او روسیې نږدې کېدل، د چین او هند تر منځ د اړیکو تر هر بل وخت ښه رغېدل او په خپله دننه په امریکا کې د ډیموکراټانو او جمهوریت‌پالو تر منځ ستونزې او د ټرمپ استیضاح؛ په اوس وخت کې د ده پر وړاندې تر ټولو لویې ستونزې دي او ټرمپ هڅه کوي چې د دویم ځل لپاره د امریکا واګې په خپل لاس کې واخلي. نو دی اړتیا لري چې تر ټاکنو مخکې د افغانستان موضوع یو طرفه کړي. که یو طرفه نه کېږي، حد اقل د خپلو سرتېرو شمېر حد اقل ته ورسوي. له خبرو یې داسې معلومېده چې د سفر موخه یې له خپلو سرتېرو سره لیدل وو. دا په امریکا کې دود دی چې د هېواد ولسمشر په دې ورځو کې (شکرانې) په بهر کې خپلو پوځي اډو ته ځي، له خپلو سرتېرو سره ډوډۍ خوري، له دوی مننه کوي او قرباني یې ستایي. خو د دې تر څنګ، دې سفر یو څه نور پیغامونه هم له ځان سره لرل.

لومړی: په دې راتګ سره یې هغو هېوادونو ته چې هغه په افغان کشاله کې یو ډول نه یو ډول ځانونه ښکېل بولي او خپلې ګټې دلته ګوري، هغه ته یې دا وښودله چې موږ په افغانستان کې شته یو او د افغانستان موضوع هم تر اوسه پورې زموږ د لومړنیو او د مېز د سر له موضوعاتو څخه ده، چې په دې سره یې په بیجېنګ کې کېدونکې ناسته ناکامه کړه. دویم: خپل ملت ته یې دا وښودله چې دی د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو لپاره خپلې هڅې جاري ساتي او د خپلو سرتېرو د کمېدو اعلان یې هم وکړ، چې دا اعلان یې مخکې هم بار بار کړی دی. درېیم: طالبانو ته یې د خبرو د پیل شین څراغ ورکړ او داسې یې وښودله، چې دا ځل به خبرې خپل منزل ته رسېږي. دا او دېته ورته نور موضوعات یې یوڅه روښانه کړل. ټرمپ غواړي په افغانستان کې دا جګړه پای ته ورسوي او دا هم غواړي چې د دوی له وتلو وروسته، د شوروي د وتلو تجربه تکرار نه شي. دا کار هم له وېرې کوي، که داسې وشي، نو بیا به یې مخه نیول او کنټرول ناشونی وي.

**د غني کتنه له ټرمپ سره د افغاني غرور د ماتې په مانا ده**

د ټرمپ د راتګ معلومات، د هغه له را رسېدو یو ساعت مخکې له ارګ سره شریک شول او له دوی یې غوښتنه وکړه، چې د بګرام هوايي اډې ته تشریف راوړي. افغان ولسمشر محمد اشرف غني د دوی له غوښتنې سره سم له کابل څخه د پروان ولایت ته، چې هلته د امریکایانو لویه نظامي اډه ده، تشریف یووړ او په یوه بارک کې چې کاملاً یې د نظامي پوستې شکل درلود، له ټرمپ سره ګډ راڅرګند شو. دواړو ولاړو نظامیانو ته خبرې وکړې، ټرمپ د امریکایي او افغان سرتېرو هڅې وستایلې، چې د دوی په هڅو سره القاعده او داعش ختم او طالبان یې هم د خبرو مېز ته اماده کړل. همدارنګه افغان ولسمشر هم د امریکایي سرتېرو د سرښندنو او قربانیو ستاینه وکړه او دوی ته یې مبارکي ورکړه چې په تېره اونۍ کې یې ننګرهار له داعش څخه پاک کړ او په راتلونکو دریو میاشتو کې به ټول افغانستان له داعش څخه پاک اعلان شي. د محمد اشرف غني لیدنه له ټرمپ سره د افغان ولسمشر په حیث په داسې وخت او ځای کې له شرم او ننګ څخه ډکه خبره ده. د ډیپلوماټیکو اصولو په اساس، د یو هېواد ولسمشر چې بل هېواد ته سفر کوي، باید مقابل حکومت په جریان کې کړي، د دوی له توافق وروسته خپل سفر پلان کړي، دا خو یې پر ځای پرېږده چې یو ساعت مخکې له خپل راتګه ورته وایي او بلنه ورکوي چې تاسو مشخص شوي ځای ته تشریف راوړئ. د غني ورتګ له پلازمېنې څخه بل ولایت ته هغه هم یوې نظامي اډې ته دا کړنه یې د اصولو، افغاني کلتور او هر ډول نورمونو خلاف کړنه وه، چې تر سره یې کړه. کله چې اوباما په خپله واکمنۍ کې افغانستان ته راغی او په بګرام کې یې له سرتېرو سره ولیدل، پخواني ولسمشر حامد کرزي ور سره ځکه ونه لیدل چې هغه کابل ته را نه غی. دا چې کرزي په خپل دور کې دا توره وکړه چې ورسره یې ونه لیدل، ده هم کولی شوی؛ خو په دې خاطر چې د ده راتګ تر پنځو نورو کلونو یقیني شي، هر ډول معاملې کړلو ته اماده دی، چې د دې بیه دا خوار او په لاسو- پښو تړلی ویاړلی ملت ورکوي. هغه ملت چې تل یې تاریخونه جوړ کړي، خو د دې بې کفایته رهبرانو له لاسه له خاورو سره خاورې شوی دی.

**پایله**

دا چې ټرمپ ولې ناڅاپي راغی، زموږ حکومت یې ولې په جریان کې نه دی کړی او بیا یې ولې زموږ جمهور رییس نظامي اډې ته د لیدنې په موخه غوښتی؛ دا هغه څه دي چې موږ پر دې باندې اوس خبره نشو کولای او لا بله یې دا چې زموږ له خاورې څخه همسایه او د سیمې هېوادونو ته اخطارېې ورکول، هغه څه دي چې په اوس کې زموږ له کنټرول څخه وتلي دي. دا چې څه ډول کولای شو له شته فرصت څخه ګټه واخلو، هغه دا چې امریکا له بل هر وخت څخه په افغانستان کې اوس د سولې راتلو ته لېواله ده او شرایط داسې راغلي، چې دوی باید له افغانستان څخه ووځي او د افغانستان چارې داسې چا ته وسپاري چې په اینده کې دوی ته سرخوږی نه وي؛ نو پکار ده چې افغان حکومت او طالبان له دې فرصت څخه په خپل هېواد کې د څلوېښت کلن ناورین د ختم په موخه ګټه واخلي. هغه دا چې شته حکومت د خپل شتون په خاطر له طالبانو سره له سولې وېره ونه لري او طالبان هم له شته حکومت سره خبرې چې په هر ډول کېږي، وکړي. په ګډه باندې د باور جوړونې فضا رامنځ ته کړي او دواړه لوري باید سولې ته د رسېدو په موخه یو څه له لاسه ورکړي او یو څه تر لاسه کړي؛ نو دوی باید دې مساعد شوي چانس ته د فرصت په سترګه وګوري او استفاده دې ترې وکړي. دواړه لوري دې هڅه وکړي چې داسې کړنې تر سره کړي، چې هم د دې مظلوم ملت په خیر وي او هم یې په پایله کې دا څلوېښت کلن ناورین ته د پای ټکی کېښودل شي او موږ وکولای شو چې په افغانستان کې د یوې تل پاتې سولې خاوندان شو.

# په ننګرهار کې د مور بم له غورځولو وروسته؛

## په سیمه کې ناروغۍ ډېرې شوې او پراخې ځمکې شاړې شوې دي



شاوخوا دوه نیم کاله وړاندې امریکایي ځواکونو د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې خپل تر ټولو لوی غیر اټومي بم استعمال کړ. اوس د سیمې اوسېدونکي وایي چې بم پر ځایي اوسېدونکو، کروندو او چاپېریال پراخ منفي اغېز کړی دی. طلوع نیوز په یوه راپور کې د سیمې له خلکو سره مرکې کړې دي او دوی د دې پخلی کړی چې یاد بم په دغه سیمه کې ناروغۍ ډېرې کړې او ځمکې یې شاړې کړې دي. نظامي متخصصین او طبي پوهان هم وایي چې د دغه ډول بمونو کارېدنه پر روغتیا او چاپېریال پراخ منفي اغېز کوي.

وروسته له دې چې د ننګرهار په ځینو ولسوالیو کې د داعش فعالیتونه پیل شول، نو امریکایي ځواکونو یې پر وړاندې هوایي بریدونه پیل کړل. د ۲۰۱۷ ز کال په اپرېل کې داسې مهال چې په مسکو کې د افغان جګړې د پای ته رسولو لپاره غونډه روانه وه، امریکا په اچین کې خپل تر ټولو خطرناک او لوی غیر اټومي بم استعمال کړ. دوی وویل چې د دې بم د غورځولو موخه د داعش له منځه وړل وو، خو له هغې وروسته نه یوازې د داعش فعالیتونه کم نه شول؛ بلکې ډېر شول او جګړې لا خونړۍ شوې.

د امریکا له لوري د دغه بم غورځول په سیمه ییزه او نړیواله کچه له غبرګونونو سره مخ شول او پر امریکایي پوځ پراخې نیوکې وشوې.

اوس تازه د رسنیو موندنې ښیي چې د دغه بم کارېدنې په اچین ولسوالۍ کې ناروغۍ ډېرې کړې دي، ځمکې یې شاړې کړې او پر چاپېریال یې منفي اغېز کړی دی.

د اچین ولسوالۍ مومندرې اوسېدونکو له طلوع نیوز سره مرکې کړې دي او په خپله سیمه کې یې د ناوړه وضعیت یادونه کړې ده. د سیمې اوسېدونکی محمدالله وایي: ((حکومتي کسانو موږ له سیمې و ایستو. بیا چې کله دوی عملیات وکړل، موږ بېرته خپلو سیمو ته راغلو، خو کورونه ویجاړ وو، ځمکې شاړې وې او هر څه ختم شوي وو)).

د سیمې یوه بل اوسېدونکي پاچا شینواري ویلي چې په دغه پېښه کې نږدې څلوېښت یا پنځوس کورونه ویجاړ شوي دي. هغه وایي: ((د بمونو مور بم په دغه سیمه کې وکارول شو. تاسې وینئ، دا ډېرې ځنګه نرمې شوې دي. په اسانۍ ان په لاس ماتېږي، بوټي وچ شوي دي. ونې وچې شوې دي. بم ته نږدې ټول کورونه تقریباً څلوېښت- پنځوس کورونه ټول ویجاړ شوي دي)).

د سیمې اوسېدونکي همدا راز د ناروغیو د ډېرېدو او چاپېریال د خرابېدو خبره هم کوي. دوی وایي چې د دغه بام تر کارېدنې وروسته، ځوانان او ماشومان پر جلدي او تنفسي ناروغیو اخته شوي دي. د سیمې یو اوسېدونکی جمع روز وایي: ((دلته ډېر خلک د پوستکي له ناروغۍ ځورېږي. دا ناروغي په ماشومانو او ځوانانو کې ډېره شوې، دوی د پوستکي له سوي او خارښت څخه ځورېږي)).


د سیمې خلکو د ژوند ګټې وټې مهمه سرچینه زراعت و، خو د مور بم تر کارېدنې وروسته، په سیمه کې بوټي وده نه کوي او دغه پېښې پر زراعت پراخ منفي اغېز کړی دی. دوی وایي چې اوس یې کروندې او ځمکې شاړې دي او د دوی له کاره لوېدلې دي.

روغتیایي کارکوونکي هم وایي چې د دغه ډول بمونو کارونه پر روغتیا او چاپېریال منفي اغېزې پرېږدي او خلکو ته به یې ستر مشکلات پیدا کړي وي. د ننګرهار د عامې روغتیا ویاند ظاهر عادل وایي، سره له دې چې دغه ډول بمونه منفي اغېزه لري، خو د امکاناتو د نه موجودیت له امله دوی ته تر اوسه داسې کوم ناروغ نه دی ورغلی چې د ناروغۍ لامل یې یاد بم ثابت شوی وي.

د نظامي چارو کارپوه عتیق الله امرخېل هم د دغه بم د ناوړه اغېزو په اړه خبرې کړې دي. د ده په خبره، د دغه ډول بمونو کارول د انسانانو پر جسمي او رواني اړخونو باندې پراخ منفي تاثیرات پرېږدي. هغه وایي: ((دا بم دری منفي اغېزې لري. لومړی پر سترګو اغېز کوي. سترګې خارښت او سوزش پیدا کوي. د بدن پر داخلي ارګانېزم اغېز کوي. تنفسي سیستم له ستونزو سره مخ کوي. پر حمل لرونکو ښځو منفي اغېز لري، کېدای شي د دوی اولادونه زیانمن شي. دلته نو اوس لابراتوار دی هر څوک وسلې ازمویي)).

بلخوا د بشري حقونو په چارو کې د دولت وزیره مېرمن سیما سمر هم وایي چې د بمونو مور بم کارول د سیمې د اوسېدونکو پر روغتیا اوږدمهاله منفي تاثیرات لري. نوموړې د یاد بم کارېدنه د افغانانو د ژوند او روغتیا لپاره خطرناکه بللې او په خبره یې، د سیمې خلک ښایي لا ډېر زیانمن شي.

## حکمتیار: د سولې خبرې باید په تېرو څلورو لسیزو کې په جګړو کې د ښکېلو ډلو تر منځ وشي



د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار ویلي، د سولې په خبرو کې له بُن‌بست څخه د وتو لپاره باید هغه ډلې دې په خبرو کې ونډه واخلي، چې په وروستیو څلورو لسیزو کې یې په جګړه کې ونډه درلوده.

حکمتیار تېره ورځ په کابل کې د سولې اړوند یوې غونډې ته ویلي، که طالبان حاضر نه وي چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، کېدای شي دا ډله پر حق وي.

هغه دغه راز زیاته کړې چې طالبان فکر کوي چې جګړه پر دوی تپل شوې ده.

حکمتیار د سولې خبرو د بیا ژر پیلېدو لپاره وړاندیز کړی چې دا مذکرات باید د ټولو هغو ډلو تر منځ وي، چې د افغانستان په وروستیو څلورو لسیزو جګړو کې سره ښکېل وو.

د هغه په باور، اوسنی او پخوانی حکومت، وسله‌وال طالبان، د حزب اسلامي په څېر نور ګوندونه او ډلې چې په وروستیو لسیزو کې په جګړو کې ښکېل وو، په دې لوریو کې راځي.

حکمتیار دغه راز ویلي: «د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره یوه معقوله لار کېدای شي دا وي چې لومړی باید مذاکرات د هغوی تر منځ پیل شي، چې له یوه او بل سره یې جګړه کړې، دا یو واقعیت دی، هغه کسان چې په دې څلورو لسیزو کې په جګړه کې ښکېل وو، کولای شي چې دې خبرو ته پراختیا ورکړي».

د نوموړي په خبره، د طالبانو لپاره لومړی همدا بسنه کوي چې لومړی پلا له امریکا سره خبرې وکړي.

که څه هم ارګ تر دې دمه د حکمتیار د څرګندونو په تړاو څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې په ستراتېژیکو اړیکو کې د ولسمشر سلاکار وحید عمر ویلي وو، که د سولې خبرې د افغان حکومت په مشرۍ نه وي، بریالۍ به نه شي.

هغه زیاته کړې وه، حکومت د سولې خبرو په اړه په تدبیر ګامونه اخلي، خو له دې بهیر سره که له سولې پرته معامله وشي، افغانستان به بحران ته ولاړ شي.

## تیموتي ویکس: د دری کلن بند په موده کې په افغانستان او پاکستان کې بېلابېلو ځایونو ته وړل شوی یو



د طالبانو له بنده د افغانستان-امریکایي پوهنتون یوه خوشي شوي استاد تیموتي ویکس استرالیایي رسنیو ته ویلي، د نږدې دری کلن بند په موده کې دی او ملګری یې په افغانستان او پاکستان کې بېلابېلو سیمو ته وړل شوي وو.

نوموړي استرالیا ته تر رسېدو وروسته خبریالانو ته ویلي: «د ۲۰۱۶ ز کال د اګست په شپږمه، په کابل کې د افغانستان امریکایي پوهنتون کې له تدریس وروسته، له خپل ملګري سره طالبانو وتښتولو».

هغه دغه راز له ټولو هغو ښکېلو اړخونو مننه کړې چې د دوی په خلاصون کې یې هڅې کړې چې په ځانګړي ډول، د افغانستان، پاکستان، قطر، امریکا او استرالیا د ولسمشرانو، زلمي خلیلزاد او ان د طالبانو د مشر ملا هیبت الله اخوندزاده نومونه یې هم یاد کړي.

نوموړي ویلي، د امریکایي او طالب استازو تر منځ د سولې خبرو بیا پیلېدل د ده لپاره د خوښۍ خبر دی او هیله یې دا ده چې په افغانستان کې نږدې دوو لسیزو جګړو ته سوله ییزه حللاره وموندل شي او افغانستان او سیمې ته ټیکاو راشي.

دغه راز کله چې له نوموړي له طالبانو سره د بند د مهال پوښتنه وشوه، هغه یې په ځواب کې وویل: «د یوه بندي په توګه د طالبانو په بند کې ما څومره وخت تېر کړ، پر ما یې نه تصور کېدونکی اغېز درلود. زه یې د بیانولو لپاره خبرې نه لرم، چې دې تجربې څنګه زه په پوره ډول واړولم. داسې شېبې وې، ما فکر کاوه مرګ مې حتمي دی، خو د خدای په مهربانۍ زه اوس دلته یم، ازاد یم او په ژوند کې بل هېڅ شی نه غواړم».

ویکس ویلي، تل یې هیله لرله او هیله یې ونه بایلوده، خو پوهېده چې بالاخره له بنده به ژوندی وځي.

د یادونې ده چې د تېرې نومبر میاشتې په لومړیو کې د افغانستان امریکایي پوهنتون استادان کوین کېنګ او تیموتي ویکس د انس حقاني او دوو نورو طالب بندیانو په خلاصون کې تبادله شول.

### د امریکا له مخالفت سره سره؛

# شپږ نور هېوادونه هم د اروپایي هېوادونو او ایران تر منځ له اینسټېکس سیستم سره یوځای شوي

د امریکا له مخالفتونو سره سره، فرانسې، برېتانیا او جرمني ویلي چې شپږ نور اروپایي هېوادونه هم له هغه سیستم سره یوځای شوي، چې دوی جوړ کړی او پر اساس یې شرکتونو ته اجازه ورکول کېږي، بې له دې چې پر ایران د امریکا له بندیزونو سرغړونه وشي، له دغه هېواد سره راکړه ورکړه وکړي.

یادو دریو هېوادونو په یوه ګډه اعلامیه کې ویلي، په اینسټېکس (INSTEX) سیستم کې د ګډون لپاره د بلجیم، ډنمارک، فنلنډ، هالنډ، ناروې او سویډن د پرېکړې هرکلی کوي.

اینسټېکس له ایران سره د سوداګریزو مالونو د راکړې ورکړې نوی سیستم دی.

دغه سیستم اوس سوداګریزو شرکتونو ته اجازه ورکوي چې له ایران سره د جنس په بدل کې د جنس معامله وکړي.

په ورته وخت کې د امریکا متحده ایالتونو د دغه سیستم کلک مخالفت کړی او د دغه هېواد مرستیال ولسمشر مایک پېنس ویلي، هغه وخت راغلی چې د امریکا اروپایي شریکان د ایران د وژونکي انقلابي رژیم پر ضد د امریکا د بندیزونو زیانمنول پای ته ورسوي.

اینسټېکس سیستم چې مقر یې په پاریس کې دی، موخه یې د سوداګریزې راکړې ورکړې ملاتړ دی او پر اساس یې شرکتونو ته اجازه ورکول کېږي، بې له دې چې پر ایران د امریکا له بندیزونو سرغړونه وشي، له دغه هېواد سره سوداګریزه راکړه ورکړه وکړي. دغه ځانګړی مالي سیستم ایران ته اجازه ورکوي، چې خپل تېل وپلوري او په بدل کې یې له نورو هېوادونو تولیدات او خدمات وارد کړي او ایران به د دغه سیستم له مخې، تر ډېره د امریکایي ډالرو پر ځای د سوداګریزو مالونو د راکړې ورکړې همدغه سیستم کاروي.

تازه فرانسې، برېتانیا او جرمني ویلي چې شپږ نور اروپایي هېوادونه هم له دغه سیستم سره یوځای شوي دي. دغو دریو هېوادونو ویلي، دوی د بلجیم، ډنمارک، فنلنډ، هالنډ، ناروې او سویډن د حکومتونو د پرېکړې هرکلی کوي، چې غواړي له اینسټېکس سیستم سره یوځای شي.

په اعلامیه کې ویل شوي، د سوداګریزو مالونو د راکړې ورکړې له دغه سیستم سره د نورو هېوادونو یوځای کېدل، اینسټېکس سیستم او اروپایي هڅې لا پیاوړې کوي چې د اروپا او ایران تر منځ په مشروع تجارت کې اسانتیا راولي. د فرانسې، برېتانیا او جرمني د بهرنیو چارو وزیرانو چې کله په جنورۍ میاشت کې دغه پلان اعلاناوه، ویلي یې وو: «دغه پلان پر هغو ساحو تمرکز کوي، چې د امریکا بندیزونو نه دي په نښه کړې او تر ډېره به له هغو سکټورونو سره معامله کوي چې د ایران د وګړو لپاره مهم دي، لکه درمل جوړول، طبي خدمات او زراعتي تولیدات».

دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ شپږو پیاوړو هېوادونو په ۲۰۱۵ ز کال کې له ایران سره اټومي موافقه وکړه، خو امریکا تېر کال له دغه تړون څخه د وتلو او پر ایران بیا د بندیزونو لګولو اعلان وکړ. له هغې راهیسې د تړون اروپایي لاسلیک کوونکي فرانسه، جرمني او برېتانیا د تړون د بچ پاتې کېدو هڅې کوي.

دوی له ایران سره د سوداګریزو مالونو د راکړې ورکړې لپاره د اینسټېکس سیستم جوړ کړ، چې د امریکا د بندیزونو له کبله یې تر اوسه ښکاره نتیجه نه ده لیدل شوې.

## د کتـاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دربیمه برخه

افغانستان

### نهم څپرکی

### په لویه پکتیا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل




فیض محمد له یوې خوا پښتون و او بل لور یې له لویې پکتیا سره تړاو لاره، ځکه نو د نوې مقررۍ پر مهال د خلق گوند مشرانو، نورمحمد ترکي او حفیظ الله امین ته د منلو وړ شو. هغه د خلق دیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې بشپړ غړیتوب هم ترلاسه کړ. نوموړی د پولې له دواړو غاړو پرتو پښتنو سره پرلپسې اړیکې ساتلې چې د رژیم لپاره یې ملاتړ خپل کړي. فیض محمد پر خپل پلرني ټاټوبي لویې پکتیا ډېر تمرکز کاوه. کابل ته د نږدېوالي په خاطر لویې پکتیا د افغانستان په معاصر تاریخ کې اړین رول لوبولی دی.

په رسمي توگه پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونه د لویې پکتیا برخې دي، خو له تاریخي اړخه لوگر، وردگ او غزني ولایتونه هم په لویه پکتیا کې راځي. د دې ځای پښتانه تر ډېره له کرلاڼې کورنۍ دي چې د پاکستان په فاټا او خیبر پښتونخوا کې هم مېشت دي. د لویې پکتیا په لویو کرلاڼي قومونو کې، ځدراڼ، منگل، ځاځي، تڼي، څمکني، صبري، مقبل، خوستوال (ځینې واړه قومونه)، گربز، وزیر او محسود (مسید) قومونه مېشت دي. په دې سیمه کې د غلجو، احمدزي، سلېمانخېل، توتاخېل، اندړ، خروټي او کوچي قومونه هم پراته دي. په دې سیمه کې منگل او ځدراڼ تر ټولو لوی قومونه شمېرل کېږي چې تر ډېره په پکتیا، خوست او پکتیکا ولایتونو کې دي.

لویې پکتیا هغه مهال خپل ستراتیژیک ارزښت ثبوت کړ چې قومونو یې له انگریزانو سره د ۱۹۱۹ز کال د خپلواکۍ په جگړه کې ونډه واخیسته. دې قومونو په ۱۹۲۹ز کال د حبیب الله کلکاني پر ضد د درانیو له کورنۍ سره مرسته وکړه چې په ترځ کې یې نادرخان پاچا شو. لویه پکتیا یو اړین اداري واحد و چې بیا په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ لسیزو کې په دریو ولایتونو ووېشل شوه. د لویې پکتیا قومونه د مالیې له ورکړې او عسکري خدمت بښل شوي وو. هغوی خپلواک وو او وسلې یې هم لرلې. دا د کابل په گټه وه چې د اړتیا پر مهال به یې له هغوی د جنگیالیو غوښتنه کوله. وړاندې له هغه چې په ۱۹۵۰ز لسیزه کې د افغانستان رسمي پوځ جوړ شي، د لویې پکتیا قومونو د حکومت لپاره د غیر رسمي پوځ حیثیت لاره. د لویې پکتیا ډېرى ځوانان په پوځ کې شامل شول.

د شلمې پېړۍ له پیل څخه د لویې پکتیا قومونه پر دوو گوندونو ووېشل شول چې د تور او سپین په نوم وو او بیرغونه یې هم په همدې رنگونو وو. قومونه له قومي نومونو راووتل د همدې دوو بلاکونو تر نوم لاندې سره یو ځای شول. هغوی خپل عام ژوند ته په همدې توگه دوام ورکړ. کله چې به موضوعات ډېر لوی وو، د پکتیا په کچه به کومه ستونزه وه او یا به د دواړو بلاکونو کسان پکې ښکېل وو، نو د دواړو بلاکونو وگړي به سره یو ځای شول او د اړوندو ستونزو پر حل به یې خبرې وکړې. د لویې پکتیا قومونه لا هم خپلو ځایي نرخونو او پښتونولۍ ته ژمن دي. کله چې به اړتیا شوه قومونه به د جگړې لپاره سره یو شول.

د هېواد په وروستي معاصر تاریخ کې دې سیمې هم ناوتریخوالی تجربه کړی. د جگړو په ترځ کې یې ډېری وگړي بې ځایه شوي، ځینې وختونه خو داسې هم شوي چې بیخي ټولې درې له خلکو تشې شوې دي. د لویې پکتیا طبعي ځنگلونو ته هم په جگړه کې لوی زیانونه اوښتي دي. ځینې پرمختیایي کارونه هم شوي، یاد کارونه تر ډېره په خلیج هېوادونو کې د مېشتو کاریگرو او سوداگرو په پېسو ترسره شوي. له دې زړه بوږنوونکو جگړو سره قومي یووالي ته هم زیان اوښتی. په ۱۹۸۰ز لسیزه کې د کمونېستانو او افراطي ملایانو له راپورته کېدو سره د قومي مشـرانو واک له خاورو سره خاورې شو، د هغوی کاریزما، د هغوی د کورنیو نفوذ او د مذاکراتو مهارتونه په اوبو لاهو شول. کمونېستان او ملایان چې غوښتل یې د لویې پکتیا پر قومي مخورو واکمن شي، د دې سیمې په بربادۍ کې گډ مسئولیت لري.

**مارکس د قومونو په منځ کې**

فیض محمد د لویې پکتیا د جنرالانو، پوهانو او نظر خاوندانو له نسل څخه یو و. له دې کسانو څخه ډېر یې په ۱۹۵۰، ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ز لسیزو کې پخواني شوروي اتحاد ته د روزنې لپاره لېږل شوي وو چې په افغانستان کې د معاصرو پرمختگونو لپاره ترې کار واخیستل شي. هغوی چې بېرته راغلل، د دې پر ځای چې په خپلو مسلکي برخو کې یې دندې ترسره کړې وای، هغوی د کمونېستو ډلو په منځ کې لوړې دندې واخیستې. لویې پکتیا هم د خلق او پرچم ډلو په منځ کې لوی قدرت لاره. د افغانستان وروستی سوسیالېست ولسمشر، نجیب الله هم د همدې سیمې و. د دفاع او کورنیو چارو وزیران، د سیدمحمد گلاب‌زوی، محمد اسلم وطنجار او شهنواز تڼی هم له همدې سیمې وو. نظرمحمد، سلېمان لایق، رازمحمد پکتین، پاچاگل وفادار، خیال محمد کټوازی، محمود سوما، عبدالرشید وزیري، میرصاحب کړوال، شهزار لېوال، انجنیر گلداد، حبیب منگل او منوکی منگل هم د لویې پکتیا وو چې په خلق دیموکراتیک گوند کې یې اړین رول لاره. د پکتیا د قومونو له سیالیو د کمونېستانو لانجې لویې وې. هغوی د ثور تر انقلاب ډېر پخوا د خلق او پرچم په نومونو له یو بل سره مخالفتونه پیل کړي وو. کله چې د خلقیانو ډله د ۱۹۷۸ز کال په اپرېل کې واک ته ورسېده، شخصي سیالۍ به هم په دښمنیو واوښتې. د کمونېستانو له مذهب او ولسي چارو سره د دلچسپۍ کمښت د قومي رهبرۍ مخه ډب کړه. د کمونېستانو د ناوړه کړنو په ترځ کې خلک ترې لیرې شول او په خلکو کې یې پراخ نفوذ نه لاره. **دوام لري...**

# قطر

حشمت الله نوري



قطر د آسیا په جنوب- لوېدیځ کې په منځنۍ ختیځ کې د عربستان د ټاپووزمې په شمال او د فارس خلیج په جنوب کې د شمالي عرض البلدونو د ۲۴ او ۲۶ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۵۰ او ۵۲ درجو په منځ کې موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۴۳۹۹ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۱۶۶م لوی هېواد بلل کېږي.

د قطر شمال ته د فارس خلیج، جنوب ته یې سعودي عربستان، ختیځ ته یې د فارس خلیج او لوېدیځ ته یې د بحرین خلیج موقعیت لري.

د قطر هوا په عمومي توگه توده او لنده ده. د دغه هېواد ژمی د شمالي بادونو د لگېدو له امله سوړ دی. د اپرېل له نیمایي څخه د جون تر نیمایي پورې د یاد هېواد هوا دومره توده وي، چې ان په سیوري کې د هوا درجه ۵۰ ته لوړېږي.

د قطر پلازمېنه د دوحې ښار او ټولټال څه کم دری میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۷۲ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۹۶ سلنه خلک په ښارونو او پاتې څلور سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

د قطر د حکومت ډول مشروطه پاچایي ده، قطر د ۱۹۷۲ ز کال د اپرېل په ۲۲مه یو لنډمهاله اساسي قانون جوړ کړ، دغه قانون د ۲۰۰۳ ز کال د اپرېل په ۲۹مه ټولپوښتنې تصویب او پاچا د ۲۰۰۴ ز کال د جون په اتمه لاسلیک کړ، چې یو کال وروسته نافذ وبلل شو. د دغه هېواد اوسنی پاچا تمیم بن حماد الثاني او لومړی وزیر یې عبدالله بن ناصر خلیفه الثاني دی.

امیر حماد بن خلیفه د ملي دفاع د وزارت او د وسله وال پوځ د لوی درستیز دندې هم پر غاړه لري. په قطر کې پاچایي میراثي ده، لومړی وزیر او د کابینې وزیران د امیر له خوا ټاکل کیږي.

د دغه هېواد دولت د نوي اساسي قانون له مخې، یو مشورتي مجلس لري چې ۳۵ غړي یې د څلورو کلونو لپاره د خلکو او پاچا له خوا ټاکل کیږي. د دې شورا ۶۷ سلنه غړي د خلکو په خوښه او ۳۳ سلنه د پاچا له خوا غوره کیږي.

د قطر حقوقي نظام د انصاف او عدالت پر داسې اصولو ولاړ دی، چې د پاچا له خوا کنټرول کیږي. په دغه هېواد کې اسلامي قوانین په شخصي مسایلو کې د تطبیق وړ دي. د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارگان د تمیز عالي محمکه ده.

دغه هېواد د ۱۹۷۱ ز کال د سپټمبر په دریمه له انگلستان څخه خپلواکي واخیسته او هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.

تېل او گاز د قطر د اقتصاد بنسټونه دي، چې د هېواد ۵۶ سلنه ناخالص کورني تولیدات، ۸۵ سلنه صادراتي عواید او د دولت ۷۰ سلنه عواید جوړوي. د تېلو او گازو عوایدو قطر ته دا فرصت په لاس ورکړی چې ډېر لوړ سرکلنی عاید ولري. په دې عاید کې د تېلو او عوایدو گاز ونډه ۸۸ سلنه ده. دغه هېواد ۱۶ بلیون بېرله تېل لري چې که په اوسنۍ اندازه وویستل شي، ۲۳ کاله به دوام وکړي. قطر ۲۵ تریلیون مکعب متره گاز لري چې د ټولې نړۍ د گازو له زېرمې څخه پنځه سلنه زیاته ده. قطر د نړۍ د گازو دریم غټ تولیدوونکی او صادروونکی هېواد دی.

د قطر ډېره ځمکه دښتي ده، اوبه نه لري او د کر وړ نه ده. په دې وروستیو کلونو کې دولت قطري پانگه‌وال دې ته هڅوي چې په ساحلي سیمو کې د سبو د تولید لپاره کروندې جوړې کړي. تر اوسه ۴۰۰ پانگه‌والو کروندې جوړې کړې دي. په دغه هېواد کې ډېر افغاني، هندي او ایراني کارگران کار کوي چې خپل عواید خپلو کورنیو ته لېږي.

د تېلو او گازو ایستل او چاڼ، پتروشیمي تولیدات، کیمیاوي سره، امونیا، فلزي شیان، سیمنټ، خوراکي توکي او د سوداگریزو بېړیو ترمیم د دغه هېواد مهم صنعتي توکي دي.

د قطر ۱.۶۴ سلنه خاوره د کرنې وړ ده، پنځه سلنه یې څرځایونو او ۹۴ سلنه نوره یې بیا بیدیاوو، ښارونو او د استوگنې سیمو نیولې ده. د دغه هېواد لږ خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي. جاپان، جنوبي کوریا، سنگاپور، هند، فرانسه، ایټالیا، المان او انگلستان د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي. دغه هېواد شپږ هوایي ډگرونه لري چې څلور یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

په قطر کې راډیویي او ټلوېزیوني خپرونې د دولت په کنټرول کې دي. د الجزیرې نامتو ټلوېزیون له دې هېواد څخه خپرونې کوي چې لگښتونه یې دولت ورکوي. دغه ټلوېزیون په عربي او انگلیسي ژبو خپرونې کوي.

قطر د سړي سرکلني عاید له پلوه د اسیا او نړۍ له شتمنو او بډایه هېوادونو څخه شمېرل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۵ سلنه خلک پر لیک او لوست پوهېږي.

د نامتو جغرافیه لیکونکي هرودوت په لیکنه کې د قطر لومړني اوسېدونکي کنعانیان ښودل شوي دي. قطر او بحرین پخوا د هندوستان او بین النهرین د سوداگرۍ په لاره کې پراته ځایونه وو او تل یې د شاوخوا ځواکونو پام ځان ته اړولو. د قطرخلک په اوومه میلادي پېړۍ کې د اسلام پر مبارک دین مشرف شول او دې سیمې یو ډول کورواکه اداره درلوده. په ۱۰۷۶ ز کال کې بحریني پوځونو پر قطر یرغل وکړ او دغه سیمه یې ونیوه. په دې کلونو کې د قطر خلکو د دغه هېواد په ساحلي سیمو کې ملغلرې نیولې او د شاوخوا خلک ورو ورو قطر ته کوچېدل. په ۱۶مه پېړۍ کې قطر څو کاله د پرتگالیانو لاس ته ورغی، له دې وروسته بیا هم قطر د بحرین تر واکمنۍ لاندې د الثاني د کورنۍ له خوا اداره کېده.

د اتلسمې پېړۍ په پیل کې د عربستان د بني تمیم د قبیلې وهابیانو قطر ونیو او د دې سیمې د اداري لپاره یې حاکم وټاکه. په ۱۹۷۱ ز کال کې عثماني ترکان قطر ونیو، په ۱۹۱۳ ز کال کې د نجد حاکم د عثمانیانو له واکمنۍ څخه وویسته. انگلیسان چې په سیمه کې یې حضور درلود، دې بدلونونو ته ځیر وو او هڅه یې کوله چې د قطر د کورواکۍ د هڅو د تېزولو له لارې ځان ته د پښو ځای پیدا کړي.

عثماني مشرانو چې له ۱۶مې پېړۍ څخه یې د عربستان د ټاپووزمې د مالکیت د عوا کوله، په سیمه کې د انگلیسانو له پاملرنې او اغېز څخه بې خبره پاتې شول. په دوحه کې یې یوه وړوکې پوځي اډه کاپې وبلله او شیخ جاسم الثاني یې د قطر د حاکم په توگه وټاکه.

په ۱۹۳۰ ز کال کې د قطر د ملغلرو بیه د جاپان د مصنوعي ملغلرو د زیاتېدو له امله ولوېده او قطر نه شوی کولای چې خپل لگښتونه پوره کړي. له همدې امله د قطر حاکم شیخ عبدالله الثاني د خپلې سیمې د تېلو د پلټلو، ایستلو او خرڅلاو امتیاز یوه انگلیسي شرکت ته ورکړ. په ۱۹۹۳ ز کال کې په قطر کې تېل کشف شول، خو د ایستلو چارې یې د دویمې نړیوالې جگړې تر پایه پورې وځنډېدې. له جگړې وروسته د هالنډ رویال داچ کمپنۍ هم په قطر کې د تېلو د ایستلو په کارونو کې پانگونه وکړه او یو ناڅاپه قطر د نړۍ د شتمنو هېوادونو په لیکه کې ودرېد. په ۱۹۱۷ ز کال کې هغه وخت چې انگلیسي پوځونه د فارس عرب له خلیج څخه ووتل، د قطر امیر شیخ حماد بن علي الثاني د خپل هېواد خپلواکي اعلان کړه. د ۱۹۷۲ ز کال په فبروري کې د قطر ولیعهد او لومړي وزیر شیخ خلیفه الثاني په یوه سپینه کودتا کې شیخ حماد له دندې لرې کړ. شیخ خلیفه د قطر د ځېرې بدلولو او پرمختگ لپاره گړندي کارونه پیل کړل. په حکومتي چارو کې یې یوه مشورتي شورا جوړه کړه، د تېلو چاڼځایونه یې جوړ کړل او د اوسپنې او پولادو د ویلې کولو کیمیاوي سرې او سیمنټو د فابریکو د جوړولو لپاره یې ستړې پانگې پر کار واچولې.

له قطر سره د افغانستان سیاسي اړیکې د ۱۳۵۱ لمریز کال د جدی په ۲۶مه، د قطر او افغانستان تر منځ د نااستوگنو سفیرانو په سویه د سیاسي اړیکو د جوړېدو گډه اعلامیه د دواړو هېوادونو په مرکزونو دوحه او کابل کې خپره شوه. استاد خلیل الله خلیلي په بغداد کې د افغانستان لوی سفیر خپل باور لیک د قطر امیر او احمد بن حمد په تهران کې د قطر سفیر خپل باورلیک د افغانستان شاهي دربار ته وړاندې کړ. په ۲۰۰۳ ز کال کې په قطر کې د افغانستان سفارت او په ۲۰۱۹ ز کال کې د قطر سفارت په کابل کې پرانیستل شو.

له افغانستان څخه تر قطر پورې د هوا له لارې فاصله ۱۸۵۸ کیلومتره او همدا راز د کابل او دوحې ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۱:۳۰ ساعته دی.

همیانی

# مسوولیت منونکي اوسئ!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ستاسو په اند بلوغ څه ته وايي؟ په سن او عمر پورې تړلې خبره ده؟ د ښځې حامله کولو ته وايي او که د يوه کار د تر سره کولو وړتيا او يا توانايي ته بلوغ وايي؟

بلوغ په سن او عمر پورې تړلې خبره نه ده، بلکې مسووليت منلو او مسووليت پر غاړې اخيستو ته بلوغ وايي. داسې کسان هم شته چې عمر او سن يې خلوېښتو ته رسېدلی وي، خو دوی لا هم خام او بې تجربې وي. زه له داسې کسانو سره پېژنم چې هغوی يوازې د سن له اړخه لوی ښکاري، نه د فکر او نظر له اړخه. دوی ژوند ته د لوبې د يوه سامان په سترګه ګوري. بلوغ په مسووليت منلو سره پيلېږي.

تاسو په بېلابېلو حالاتو او موقعيتونو کې څه ډول چلن کوی؟ ايا د خپلو کړنو، نظريو او تېروتنو له کبله نور کسان رټی او ښکنځی؟ که نه مسووليت پر خپله غاړه اخلی؟

خالد او علي په کوټه کې پر توپ باندې لوبې کولې. خالد په تېزۍ سره توپ د علي پر خوا شوټ کړ، علي خپل سر ښکته کړ، توپ په شيشه ولګېد او شيشه ماته شوه. کله يې چې مور له بېرون څخه راغله، ګوري چې د کوټې شيشه ماته ده. دا چې خالد يو څه لوی و، نو په غوسه يې ورته وويل شيشه چا ماته کړه؟ پوهېږې، خالد څه ډول ځواب ورکړ، بېخي سړی حيران شي. «ما توپ د علي په خوا شوټ کړ، علي خپل سر ښکته کړ او توپ په شيشه ولګېد، نو ځکه شيشه ماته شوه». ښه نو اوس د دې پر ځای چې خالد خپل مسووليت منلی وای او پر دې يې اعتراف کړی وای چې شيشه د ده له لاسه ماته شوه، د خپلې تېروتنې پړه يې پر علي ور واچوله. دا هغه عادت دی چې له بده مرغه ډېر عام او بېخي ډېر کسان يې لري. دوی د دې پر ځای چې خپله پړه ومني او مسووليت يې واخلي، د خپل بام واورې پر نورو ور اچوي.

زموږ د ژوند اصلي موخه او دا چې تر اوسه پورې ژوندي يو، دا ده چې بايد خپل مسووليتونه سر ته ورسوو. د څه لپاره پيدا شوي يو او مسووليت مو څه دی؟ د انسان مسووليت ورځ تر بلې ډېرېږي او اوږې يې درنوي، تر هغه چې سر ته يې ورسوي. تاسو بايد د يوه دری کلن ماشوم په څېر ونه اوسئ، چې خلک يا د کورنۍ غړي در څخه وغواړي چې دا کار داسې کړه او دا کار پر دغه وخت وکړه، خپله لاس پکار شئ او دا يې تر ټولو ښه لار ده.

مسووليت منل د باور فضا ته د ور ننوتو يوه لار ده. کله مو چې مور له کوره وځي، تاسو ته وايي، د خپل کوچني ورور خيال دې ساته. کله مو چې مور له کوره وځي، کور کې مو چټل ځايونه پاک کړئ، د کور خواره واره کالي ټول کړئ، د کوچني ورور خيال مو وساتئ، خواړه ورکړئ، له خپلو خويندو او وروڼو سره مو په کورنيو دندو کې مرسته وکړئ. د دې کار خوند هغه وخت ښکلای شی چې مور مو کور ته راشي او ستاسو د ښو کارونو له کبله يې ټنډه وغوړېږي او پر تندي مو ښکل کړي. مسووليت منل او تر سره کول دقيقاً همدې ته وايي. ستاسو په دې کار سره ستاسو مور يا پلار ډاډمن کېږي، چې که يوه اونۍ هم په کور کې نه وي، تاسو د هر څه د سمبالولو وړتيا لرۍ، هغوی پر تاسو باور کوي.

اوس د دې موضوع برعکس فکر وکړئ، کله مو چې مور له بېرون څخه راځي، ګوري چې په کور کې هر څه ګډوډ دي. هېڅ شی هم پر خپل ځای نه دي، کوچنی ورور مو وږی دی، کورنۍ دنده کې چا ور سره مرسته نه ده کړې، د کوټې شيشه ماته ده، خو کله مو چې مور د کور ټول ګډوډ شيان سموي او پر خپل ځای يې ږدي، نو ګوري چې يو شی ورک هم دی. ستاسو په اند د مور غبرګون به مو څه وي؟ ښکاره خبره ده چې هغه به پر تاسو باندې خپل باور له لاسه ورکړي او ډېر وخت به ونيسي چې هغه بيا پر تاسو باندې باور وکړي.

مسووليت منل هغې مرحلې ته ويل کېږي، چې تاسو د خپلو کړنو په اړه ځواب ورکوونکي اوسی او په وړتيا مو حساب وشي. دغه راز ځومره چې ستاسو عمر لوړېږي، د مسووليتونو کچه مو هم ور سره لوړېږي او د خپلې راتلونکې مسوول کېږی.

هېڅوک نه شي کولای د هغه څه په اړه چې ستاسو د ژوند اړوند دي، پرېکړه وکړي. په دې برخه کې توپ ستاسو پر ځمکه او ستاسو په اختيار کې دی. موږ هغه وخت تجربې خپلوو چې د خپلو خاطرو او کړنو د تهديد پر ځای، د خپلو کړنو او خپلې راتلونکې په اړه مسووليت منونکي واوسو.

ما ته معلومه شوې، کله چې يو زده کوونکی په يوه مضمون کې ښې نمرې اخلي، پر ځان وياړ کوي او ټولو ته وايي چې څومره تکړه او هوښيار دی. خو کله چې قضيه بر عکس وي، بيا نو استاد او نور ورځني شرايط ګرم ګڼي. ان که خپله يې هم د ازمويني لپاره ښه درس نه وي لوستی خپل ښوونکی ګرموي او وايي، ښوونکي يې هېڅ سم درس نه و ورته تشريح کړی. اوس پوښتنه دا ده چې څه شی د دې ليدلورې د بدلون لامل شوی دی؟ ولې کله چې بريالي کېږو پر ځان وياړو او دغه څه خپله وړتيا بولو، خو کله چې ماتې خورو بيا د خپل بام واورې پر نورو ور اچوو او نور کسان ګرم بولو؟

دا ژوند په اصل کې زموږ خپل مال دی. زموږ اعمال او کړنې هغه که ښې وي او که بدې، دا موږ يو چې مسووليت يې پر خپله غاړه واخلو. د ژوند سم ليدلوری همدا دی.

په ژوند کې هر څوک له ماتې سره مخ کېدای شي، خو که يې دا زده کړې وي او يا يې زده کړي، چې نور خلک بايد د خپلو کړنو له کبله ګرم ونه بولي او ويې نه رټي په اصل کې يې هېڅ ماتې نه ده خوړلې. تاسو به ليدلي وي، نن سبا د ټولو خلکو په خوله همدا يو شعار يا خبره ده چې موږ بايد يوه غوره ټولنه ولرو، خو څو کسانو په رښتيا او د زړه له تله دې هيلې ته د رسېدو لپاره متې را بډ وهلې دي؟ ډېری خو ان پر دې باور دي، چې دا په اصل کې د دوی دنده نه ده.

زموږ د شخصي ژوند فلسفه په کلماتو کې نه شي تعريفېدلای، بلکې زموږ په ټاکنو کې تعريفېږي او ټاکنې بيا تر ډېره زموږ د مسووليت اړوندېږي. موږ ټول بايد مسووليت منونکي اوسو او هغه بدلون چې بايد ويې وينو او راوستل شي، بايد له ځانه يې پيل کړو.

د يوه متاهل نارينه په توګه ستاسو مسووليت: له کورنۍ څخه ساتنه او د کورنۍ ستونزو او اړتياوو ته پام کول او رسېدل دي. تاسو بايد د يوه نارينه په توګه له خپلو دندو تېښته ونه کړئ، تاسو بايد ور سره مخ شئ او تر سره يې کړئ.

## ماليې وزارت: د ۲۰۱۰ ز کال په پرتله له افغانستان سره نړدې نيمايي نړيوالې مرستې راکمې شوې دي

ماليې وزارت ويلي، له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې مالي مرستې کمې شوې، خو حکومت پر ځان د بسيايني لپاره کار کړی او له نړيوالې ټولنې سره کړې ډېرې ژمنې يې تر ډېره عملي کړې دي.

د دغه وزارت د پاليسۍ مرستيالې ناهيد سرابي تېره ورځ په کابل کې د يوې خبري ناستې پر مهال د نړيوالې ټولنې د مرستو پر کموالي، له نړيوالې ټولنې سره د ژنيو کنفرانس د دوه اړخيز حساب ورکولو له چوکاټ سره سم د دوو اړخيزو ژمنو پر پلې کولو، د افغانستان او اروپايي ټولنې تر منځ د دولت جوړونې تړون او لومړيتوب لرونکو پروګرامونو په برخو کې د افغان حکومت په پرمختګونو خبرې کړې دي.

د ماليې وزارت د پاليسۍ مرستيالې ناهيد سرابي وويل چې له ۲۰۱۴ ز کال را وروسته د افغانستان لپاره د نړيوالې ټولنې مالي او پوځي مرستې کمې شوې، خو د افغانستان حکومت د ځان بسياينې لپاره پر ميکانيزمونو او پلانونو کار کړی دی.

د هغې د معلوماتو له مخې، نړيوالې ټولنې په ۲۰۱۰ ز کال کې له افغانستان سره ۱۵،۷ ميلیارده امريکايي ډالره مرسته کړې، خو په ۲۰۱۸ ز کال کې د دغې مرستې کچه ۸،۴ ميلياردو ډالرو ته رالوېدلې ده.

خو هغې زياته کړې چې د افغانستان دولت له يوې خوا په عامه لګښتونو کې کموالی راوستی او له بلې خوا يې ملي عوايد ډېر شوي دي.

د نوموړې په خبره، د افغانستان عوايد په ۲۰۱۰ ز کال کې له ۱،۳ ميلياردو افغانيو څخه په ۲۰۱۸ ز کال کې ۲،٦ ميلياردو افغانيو ته لوړ شوي چې دوه برابره زياتوالی ښيي.

دغه راز د سرچينې د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۰ ز کال کې عامه لګښتونه ۱۷ ميلياره ډالره وو، خو په ۲۰۱۸ ز کال کې ۱۱ ميلياردو ډالرو ته راټيټ شول.

سرابي ويلي، تېر کال د ژنيو په ناسته کې د افغانستان حکومت او نړيوالو شريکانو يې د ۲۴ ژمنو دوه اړخيز تړون وکړ، چې ۱٦ يې د افغانستان د حکومت مسووليت و او ۸ نور يې د حکومت او نړيوالو شريکانو ګډ مسووليتونه دي.

د هغې په خبره، ښه حکومتولي، مالي ثبات، د پراختيايي چارو ښه والی، د بشري حقونو د وضعيت ښه والی او له فساد سره مبارزه او نورې له يادو ژمنو څخه دي.


هغې په دې تړاو د جزياتو له ورکولو پرته ويلي، ځينې ژمنې په بشپړ ډول پلې شوې، ځينې پنځوس سلنه پلې شوې او ټاکل شوې چې د ۲۰۲۰ ز کال تر پايه په بشپړ ډول پلې شي.

## عامې روغتيا وزارت: روان کال په افغانستان کې د پوليو د پېښو شمېر ۲۲ ته رسېدلی دی

د عامې روغتيا وزارت چارواکو ويلي چې د کندهار ښار په منزل باغ سيمه کې يو ۱۸ مياشتينی ماشوم پر پوليو يا د ماشومانو د ګوزڼ پر ناروغۍ اخته شوی دی.

په کندهار کې د پوليو پر ضد د مبارزې د بېړنيو اقداماتو د مرکز مسوول ډاکتر عبدالقيوم پخلا ويلي، چې د ګوزڼ وهلې ماشوم کورنۍ د ملا علم اخند په کلي کې چې د ښار د منزل باغ سيمه ده، ژوند کوي.

ډاکټر پخلا زياته کړې، د پوليو له دې نوې پېښې داسې څرګندېږي، چې کندهار ښار د پوليو ويروس تر لوړ ګواښ لاندې دی او د سلګونو زرو ماشومانو ژوند ګواښي.



هغه ويلي: «د پوليو ټيمونه د دغې نوې پېښې په غبرګون کې د ګوزڼ ضد د نوي کمپاين د عملي کولو پلان جوړوي، خو تر هغې چې ټولنه موثره او اغېزمنه مرسته ونه کړي، ممکن په دې برخه کې هڅې اغېزمنې پايلې ونه لري».

په ورته وخت کې د کندهار د عامې روغتيا رييس ډاکټر موسی جان سلطاني امريکا غږ ته ويلي، چې تېره اونۍ په کندهار ولايت کې د پوليو واکسين ځانګړی کمپاين پای ته ورسېد.

سلطاني زياته کړې، د کندهار ښار منزل باغ يوه له ګڼ مېشتو سيمو څخه ده او له همکارو بنسټونو سره په ګډه هڅه کوي، چې په دې سيمه کې ماشومان د پوليو ويروس پر وړاندې وقايه کړي.

د روغتيايي چارواکو په خبره، په دې سيمه کې د نفوس د زياتوالي تر څنګ، پر پوليو ويروس د محيط ککړتيا، د زرګونو نورو ماشومانو د روغتيا لپاره جدي ګواښ دی.

د عامې روغتيا وزارت د معلوماتو له مخې، د روان ۲۰۱۹ ز کال له پيله تر اوسه په افغانستان کې د ماشومانو د ګوزڼ د پېښو شمېر ۲۲ ته ورسېد، چې څلور پېښې په کندهار، پنځه په هلمند، اته په اروزګان، دوې په پکتيکا، يوه په بادغيس، يوه کونړ او يوه هم په ننګرهار کې ثبت شوې ده.

د يادونې ده چې تېر ۲۰۱۸ ز کال په افغانستان کې د پوليو ۲۱ مثبتې پېښې ثبت شوې وې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۷۰ |
| € | ۸٦،٦۰ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱،۳۰ |
| £ | ۱۰۱ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0780 600 400, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر دویمه | ٤۷۲یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | ۲۰ | ۱۹ | ۱۷ | ۲۱ | ۱۸ |
| ۰ | ٤ | ۳ | ٤ | ٦ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۳ | لمر ختل ۰٦:٤۱ | ماسپښین ۱۱:٤۳ | مازیگر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۲

## نړۍ




### د امریکا له مخالفت سره سره؛
## شپږ نور هېوادونه هم د اروپايي هېوادونو او ایران تر منځ له اینسټیکس سیسټم سره یوځای شوي


۳

## د عراق پارلمان د دغه هېواد د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي استعفا ومنله

د عراق پارلمان تېره ورځ د دغه هېواد د لومړي وزیر عادل عبدالمهدي استعفا ومنله او د دغه هېواد له ولسمشره یې وغوښتل چې د هغه پر ځای نوی کس ور معرفي کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د دغه هېواد لومړي وزیر عادل عبدالمهدي وروسته له هغې له خپلې دندې استعفا وکړه، چې د نوموړي پر ضد لاریونونه پر تاوتریخوالي واوښتل او ډېرو کسانو ته یې مرگ ژوبله واوښته.

د عراق د کابینې د استعفا له منلو وروسته، د دغه هېواد پارلمان ویلي چې له ولسمشر برهم صالح څخه یې غوښتي چې دې مهمې څوکۍ ته نوی کس ور معرفي کړي.



د عراق د اساسي قانون پر اساس، تر هغې چې نوی لومړی وزیر پارلمان ته نه وي وروپېژندل شوی، موجود صدراعظم او کابینه یې سرپرستان دي.

دا په داسې حال کې ده چې په عراق کې له شاوخوا دوو میاشتو راهیسې د زرگونو کسانو له خوا سخت لاریونونه روان دي او د دوی یوه غوښتنه هم د لومړي وزیر استعفا وه.

دفرانس پرېس خبري اژانس د راپور له مخې، په دغو لاریونونو کې تر دې دمه شاوخوا ۴۲۰ کسان وژل شوي دي.

په ورته وخت کې د عراق مذهبي مشر ایت الله علي سیستاني هم په دې وروستیو کې له لاریونوالو څخه خپل ملاتړ اعلان کړ او له پارلمان څخه یې وغوښتل چې د نویو ټاکنو لپاره د قانون په جوړولو کې بېړه وکړي.

## په شمالي وزیرستان کې شپږو پاکستانیو پوځیانو ته مرگ ژوبله اوښتي




په شمالي وزیرستان کې د پاکستاني پوځیانو پر یوه پوسته وسله وال برید شوی چې له امله یې شپږو پوځیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.
چارواکو ویلي چې دا پېښه ډېورنډ فرضي کرښې ته څېرمه شوې چې په پایله کې یې د دغه هېواد یو پوځي وژل شوی او پنځه نور سخت ټپیان دي.
د پاکستاني چارواکو په خبره، ټپیان یې سیمه ییز روغتون ته رسولي او د دوو هغو یې روغتیایي حالت د اندېښنې وړ بلل شوی دی. تر پېښې وروسته ډېر پولیس، پوځي او ملېشه ځواکونه د پېښې ځای ته رسېدلي او د لټون عملیات یې پیل کړي دي. که څه هم تر دې دمه د دغې پېښې پړه کومې ډلې پر غاړه نه ده اخیستې، خو تر دې وړاندې د تحریک طالبان پاکستان اړوند ډلو د ورته بریدونو مسوولیت منلی دی.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې پر پاکستاني پوځیانو بمي چاودنو او بریدونو زور اخیستی، چې یوازې په شمالي وزیرستان کې په تېره میاشت کې تر ۱۳ ډېر عسکر وژل شوي او ډېر نور ټپیان شوي دي.
پر دې سربېره، په بلوچستان کې هم پر پاکستاني پوځیانو بریدونه زیات شوي چې ډېر مالي او ځاني زیانونه یې ور اړولي دي.


## تاجرانی که تدابیر جلوگیری از آتش سوزی را عملی نکنند، به څارنوالی معرفی می شوند




کمیته مشترک جلوگیری از آتش سوزی، هشدار می دهد تاجرانی که دستورالعمل تدابیر احتیاطی برای جلوگیری از آتش سوزی را رعایت نکنند، به څارنوالی معرفی می شوند.
این کمیته که متشکل از ده اداره دولتی وغیر دولتی است، دیروز هشدار داد که تدابیر احتیاطی برای جلوگیری از آتش سوزی باید رعایت شود.
محمد قاسم حیدری معین پالیسی و انسجام وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث که دیروز در یک نشست خبری در کابل صحبت می کرد، گفت که پیش از این، عده ای از صاحبان مراکز تجارتی و پمپ ستیشن ها به دلیل عدم رعایت دستورالعمل ها جریمه نقدی شده اند.
وی هدف از تطبیق طرح وقایوی برای جلوگیری از آتش سوزی را حفظ جان مردم دانست و گفت که این پلان بالای همه یکسان تطبیق می گردد.
موصوف علاوه کرد که تیم ۲۰ نفری شناسایی آسیب پذیری مراکز تجارتی و پمپ استیشن ها، در جریان یکسال ۲٤٦ پمپ استیشن و بیش از دوهزار مرکز تجارتی و رهایشی را سروی و بازرسی نموده و تذکرهای لازم را به مالکان آنها داده است.
او تصریح کرد که نتیجه این سروی، نشان می دهد که در حدود ۴۰ در صد از پمپ ستیشن ها در کابل، معیارهای ابتدایی ایمنی را رعایت نکرده اند و پس از این، تاجرانی که دستورالعمل تدابیر احتیاطی برای جلوگیری از آتش سوزی را رعایت نکنند، به څارنوالی معرفی می شوند.
کمیته مشترک جلوگیری از آتش سوزی، در جریان یک سال پس از فعالیتش مسوده طرح جبران خساره متضررین حوادث آتش سوزی، طرح جلوگیری از آتش سوزی در مراکز تجارتی و طرزالعمل تنظیم فعالیت کمیته را تنظیم نموده و به ریاست دفتر مقام عالی ریاست جمهوری ارایه کرده است.

## ژوند

## تر شپږو میاشتو ماشوم ته دغه خواړه مه ورکوئ



د جرمني هېواد یو مشهور ژورنال وایي چې میدنې او پلرونه دې شیدې خوړونکي ماشوم ته خام یا اوومه او په دم پاخه شوي خوراکونه نه ورکوي.
ژورنال زیاتوي، کله چې تي خور ماشوم ته تر شپږو میاشتو شیدو خوړلو وروسته، نور خواړه ورکول پیلېږي، دغه مهال دې له پورته ذکر شویو خوړو څخه کوچنیان وژغوري. د دې ژورنال په خبره، دغه خواړه د ماشوم لپاره ممکن ډېر میکروبونه ولري او د ماشوم د مسمومېدو لامل شي، کوم چې د قی کولو، اسهال، کولمو او معدې ستونزو په توگه څرگندېږي. دغه راز تر یو کلنۍ وړاندې ماشوم ته وچه میوه، منه او گازرې مه ورکوئ، ځکه چې د دې سختو خوړو ځینې برخې ممکن ماشوم ته د ساه ایستلو ستونزې پیدا کړي او د دوی د ساه لنډۍ لامل شي. د تغذیې فدرالي مرکز هم والدینو ته هغه مهال خپلو کوچنیانو ته د تازه میوې د ورکولو سپارښتنه کوي، کله یې چې د شیدو غاښونه راڅرگند شي، خو په دغه دوره کې دې هم ماشوم ته سخت هضمه خواړه نه ورکوي.
دغه راز دې ماشوم په لومړیو میاشتو کې د خوړو خوراکونو لکه شاتو، بورې او نورو جوسونو له ورکولو څخه وژغورل شي، ځکه چې کوچنی ماشوم خوړو ته اړتیا نه لري او سرېښناک خواړه یې غاښونه کمزوري کوي.

## د هنداري ازموینه

هغه به مو اورېدلي وي چې پر پوښتنه باندې ځان پوهول، په اصل کې نیم ځواب پیدا کول او ویل دي. د یوه کار له تر سره کولو مخکې لومړی ځان پرې پوه کړئ، کله چې ښه پوه شوی، بیا کولای شې هغه کار سم تر سره هم کړې. د ډېرو معلوماتو پر مټ کولای شې چې غوره ټاکنه وکړې او لا ډېره پوهه تر لاسه کړې.
د دې لپاره چې پوه شې په راتلونکي کې باید څه ډول شخص در څخه جوړ شي او خپلې موخې ته د رسېدو لپاره مو سمه لاره ټاکلې ده او که نه، شفافیت هغه چوکاټ دی چې د ځیرکانه ټاکنې لاره درته اسانوي او کولای شې چې خپلې پرېکړې عملي کړې.
د هنداري ازموینه، دا ستا لپاره غوره وسایل دي. خپلې راتلونکې ته وگوره او له ځانه وپوښته: هغه کوم کار دی چې په کولو سره یې نن زما شخصي او



مسلکي ژوند د لویوالي او عظمت بلې مرحلې ته رسېږي؟ وروسته د دې کار په اړه فکر وکړه، د تر سره کولو لپاره یې غور وکړه او سرته یې ورسوه. اوس دا خبره ذهن ته وسپاره چې: د ورځنیو کوچنیو کارونو په غوره او سمه توگه تر سره کول، موږ غوره او گټورو پایلو ته رسوي.